مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

افغان جرمن آنلاین ۲۰۱۹/۰۵/۱۳

# د خواخوږی پیام

په خواشینی سره مو خبر تر لاسه کړ چې تکړه ژورنالسته، د ښځو د حقونو غوښتونکې او د افغان جرمن پورټال فعاله قلمي همکاره مینه منګل، د ۲۰۱۹ کال د می میاشتې په یولسمه نېټه، د وسلوالو په ډزو وژل شوې ده.

مینه منګل ډېره ځوانه وه، خو ښه قلم، ژور تحلیل او له وطن او خلکو سره یې بې پایه مینه درلوده. د خپل لنډ عمر ډېره برخه یې فرهنګي کارونو ته د دې په پار وقف کړې وه چې ټولنه او خلک اصلاح شي، له پوهې نوي ژوند او تمدن سره آشنا، هېواد او ټولنه یې په مثبت لوري یو ځو ګامونه اوچت کړي؛ خو له بده شامته چې همدې ناخوالو، ناپوهیو، نا انډولیو او د ښځو پرضد د تاوتریخوالي سوځونکو او وژنکو څپو یې سر وخوړ او د ګور تورو تیارو ته یې ولېږله.

د افغان جرمن پورټال کاري ټیم د مینې منګل نه شتون، د هغې کورنۍ ته، د افغانستان فرهنګي کړیو او ځوان نسل ته لویه ضایعه ګڼي او په داسې حال کې چې په دې لوی ویر کې ځان شریک ګڼي، د لوی خدای له درباره څخه هغې ته جنتونه، کورنۍ، دوستانو او همکارانو ته یې د لویې حوصلې او صبر غوښتنه کوي.

**د مینې منګل ارواح دې، د مینې په وریښمین دسمال نغښتې او ارامه وي!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ